# ځلنده ستوري

حضرت عبدالله بن رواحه (رحمة الله علیه)

د کتاب نوم: ځلنده ستورې
لیکوال: مهدي وحیدي صدر
ژباړه: محمدرحیم دراني
د متن علمي کارپيژاندي: محمد هادي یوسفي غروي
د اینځورونو کارپيژاندي: سید محسن موسوي
ویراستار: عبدالرحیم دراني
طراحي او اجرا: د نور کوثر سیماي شرکت
اینځورګر: حکیمه شریفي
رنګ ورکوونکے: اشرف حسیني
خپروونکے: د اهلبیتو د نړیوالې غونډې د کلتوري چارو مرستیال
د چاپ وار: لومړی
د خپریدو تاریخ: ۱۳۸۸
چاپخانه: لیلی
چاپ ګڼه: ۵۰۰۰
شابک: ۴۲۶۵۷۸۱۹۶۸/۱۶۸
د دورې شابک: ۱۴۲۶۵۴/۴۵۷/۴۲

د چاپ حق محفوظ دے
www.ahl-ul-bayt.org

د مدينې نه بهر يو ځاى کښې درې زره مسلمانان او د خداى د رسول ملګرى راغونډ شوي وو هغوي د روم جنګ ته تللو ته تيار وو. مسلمان سپايان د رسول الله خبرو او وصيتونو ته انتظار کښې وو او د هغه د فرمايشاتو اوريدلو لپاره يې ګوتې شمارلے، پيغمبر(ص) د خداى حمد اوثنا سره او په خداى باندى توکل سره شورووکړه او روميانو سره د جنګ په هکله يې ډيرې ښې خبرې وکړې. بيا يې د سپايانود مشرى لپاره درې له ټولو ښه صحابه وټاکل، هغه حضرت وفرمايل؛ اے د الله د لارې مجاهدانو! په دې جنګ کښې مشري مو د خپل ترۀ زوي جعفر بن ابى طالب ته ورکړه او که هغه شهيد شو نو زيد بن حارثه به د اسلام بيرغ په لاس کښې اخلي او د لښکر مشرى به کوي اوکه هغه شهيد شو نو عبدالله بن رواحه به د لښکر مشر وي، د پيغمبر(ص) د دې خبرو وروسته د اسلام

سپایان د یو سخت جنګ لپاره د شام په لور روان شو او پیغمبر(ص) هم ورسره تر څه حده بدرقه وکړه او بیا یې د اسلام لښکر سره خدای ملې وکړ. د خدای ملي په وخت کښې عبدالله بن رواحه پیغمبر(ص) ته ورغږ اوویې ویل: اے د خدای رسوله! ماته یو خبره وکړه چې زما لپاره نصیحت شی، پیغمبر(ص) ورته په ځواب کښې وفرمایل: ته به سبا داسې ځمکې ته لاړ شې چې هلته سجده کول کم دي نو دې ته په پام هلته زیاتې سجدې وکړه، عبدالله بن رواحه وویل: بل نصیحت راته وکړه؛ هغه حضرت وفرمایل: تل خدای یادوه ځکه هغه په هر څه کښې ستا یار او مددګار دے. بیا عبدالله له پیغمبره جدا شو او دا شعرونه یې وویل؛ زۀ له خدایه بخښنه غواړم، او ماتوونکي ګزارونه چې په لپو لپو وینه ترې راوځي او خلک زما په تنې د تیریدو په وخت ماته دعا وکړي او ووایي چې خدای هغه خوشبخت کړ. عبدالله بن رواحه اوښکې

ورولې اوويل يې: زۀ هيڅ کله د دنيا سره مينه نه لرم او د دنيا نه د جدايۍ په غم کښې ژړانه کوم؛ زما د ژړا سبب دا دے چې د خداى په وړاندې ځان ګنهګار ګڼم او د هغه رحمت ته اميدوار يم؛ عبدالله بن رواحه په داسې حال کښې له رسول الله جدا شو چې کلک ايمان، بشپړ يقين او بيلګه ميړنتوب يې لرل تل به يې د خداى ذکر کاوه او د خداى و او د رسول له رضا پرته به يې بل فکر نه کاؤه کله چې د مسلمانانو سپايان د شام وطن ته ورسيدل نو د دښمن سل زره لښکر سره مخامخ شول د جنګ لپاره يوه شورا جوړه کړې شوه ځينې پکښې يو بل ته بې باوره وويل : د دښمن فوځ زمونږ په مقابله ډير زيات دے او د هغوي په وړاندې ودريدل ممکن نه دي ځکه چې د روميانو د جنګ تجربه هم د مسلمانانو نه زياته وه. په داسې وخت کښې له ټولوښه ممکنه لار دا وه چې پيغمبر(ص) ته ليک وليکلی شي او د هغه نظر وغوښتل شي کيدے

شي چې پیغمبر(ص)مونږ ته د وروسته کیدو اجازت راکړي. عبدالله بن رواحه د مسلمانانو فوځیانو خبرو سره ډیر خپه او دلګیر شوے و. مؤمنانوسپایانو ته یې مخ کړ او ویې ویل: اے مسلمانانو! قسم په خدای؛ تاسو دلته د څه مقصد لپاره راغلي یئ چې اوس هغه نه خوښوئ، تاسو له مدینې د شهادت په نیت راوتلي یئ نو ولې ترې ویریږئ؟ قسم په خدای مونږ هیڅ کله د اسونو او اسلحې په امید دښمنانو سره نه یو جنګیدلي یوائې د خدای په توکل او په خدای باندې د عقیدې او دایمان په زور جنګیدلي یو اوس هم دښمن سره جنګیدلو ته تیار یو. قسم په خدای مونږ سره د بدر په جنګ کښې دوه اسونه او د احد په جنګ کښې یو اس ؤ بیاهم په دښمنانو بریالي شوو، په دی جنګ کښې به هم یابریالي شو یا به شهیدان شو که بریالي شو نو خپل مقصد ته ورسیدو او که شهیدان شو نو خپلو شهیدانو ورونو سره به یو ځاي شو.

عبدالله خپلو ګرمو خبرو سره د اسلام سپایانو ته نوې زور ورکړ او هغوي په ډیرې زړه ورتیا سره په دښمن حمله وکړه. د روم لښکر د اسلام سپایانو سره په موته، نومې ځای کښې وجنګید او ډیر سخت جنګ وشو په دغه جنګ کښې د اسلام د لښکر دوه بهترین مشران جعفر بن ابی طالب او زید بن حارثه شهیدان شو او عبدالله بن حارثه د لښکر مشري په لاس کښې واخسته په داسې حال کښې چې هغه په دښمنانو حمله کوله دا شعرونه یې لوستل؛اے زما ځانه قسم خورم چې جنګ ته وځې که خوشحالیږې که خپه کیږې.اے زما ځانه ولې له جنته په تیښته یې او هغه نه خوښوې؟ که دخدای په لارې کښې شهید نه شې هم به درله مرګ راځي دا د مرګ استازے دے چې غږونه کوي که د جعفر او زید لارې ته دوام ورکړے نو هدایت به شې او که په دې لاره کښې څه کمې وکړې نو په بدبختۍ کښې به ګیرشې.

عبدالله د دښمنانو په مینځ کښې توره وهله او هغوي يې هلاکول هغه د اسلام د لښکر په سر کښې جنګيدۀ خو هیڅ ویره يې زړۀ ته نه راتله، کله کله به يې ځان سره ویل؛ اے عبدالله ته لا تر اوسه ژوندی يې په داسې حال کښې چې صحابه او یاران دې شهیدان شوي دي؟ اخر دا چې عبدالله په دغه جنګ کښې د دښمن د لاسه نیزه وخوړه او په شهادت ورسید. هغه د پیغمبر(ص) په حضور کښې و او همیشه یې د هغه اطاعت او پیروي کوله هیڅ کله یې په خپله عقیده او ایمان کښې شک ونه کړ او تل یې ځان د پیغمبر(ص)لپاره زغره جوړوله. عبدالله به په ډیرو جنګونو د خپل میړنتوب په سبب د اسلام لپاره د ډیرو بریالیو سبب کیدۀ او تل به يې نورمسلمانان د پیغمبر(ص) اطاعت او پیروی ته بلل د خدای رسول به هم تل هغه ته دعا کوله او هغه ته به يې ډیر لوی ذمه واری ورکولے،

## پېژندګلوي

نامه: عبدالله

د مور نامه: ابومحمد – ابو رواحه

د قبیلې نامه: جزرج

د شهادت تاریخ: د اتم هجري کال لومړۍ خور

د شهادت ځای: د اردن په خوا کښې موته

---

سرچینې:

سیره ابن هشام، ۲ټوک، ۲۲۳مخ،

سبحانی، فروغ ابدیت، ۲۹۰- ۷۲۷مخونه.

د اهلبیتو(ع) نړیوالې ټولنې د اسلامي کلتور د رواج کولو لپاره دا کتاب خپور کړے دے، اولیاء، روزونکي او لوستونکي خپل وړاندیزونه او نیوکې په دې پتې رالیږلے شي.

د کلتوري چارو مرستیال

فکس: ۰۲۵۱-۲۹۱۳۱۰۰